

# دعلي شان

## په ژبه دنبي ﷺ

**22-April-2022**

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

22اپریل،2022ء د پاکستان هفته وار اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د علــي شان په ژبه د نبــي ﷺ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو پورې چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدلو شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي۔

## د دُرُود شریف فضیلت

د یو ځل ذِکر دے، د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِــيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ یو ځائ ناست وو، د هغوئي نه لږ لرې یو څو کافر ناست وو، یو فقیر د دې کافرانو خوا له راغے او د هغوئي نه ئې سُوال اوکړو، دې کافرانو د شرارت په وجه د حضرت عَلِــيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ طرف ته اشاره

اوکړه او هغه فقير ته ئې اووئيل: د هغوئی خوا له لاړ شئ هغوئي به تاسو ته ضرور څه درکړي. فقير ته خو د مالي مدد حاجت وو، هغه د حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په خدمت کښې حاضر شو، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دا ټول هر څه ليدل، بيا هغوئی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ **لس ځله دُرُود شريف** اولوستلو او د هغه فقير ورغوے ئې دم کړو او ورته ئې اوفرمائيل: خپل موټے بند کړه او کومو خلقو چې ته راليږلے ئې ، د هغوئي په مخ کښې ئې بيرته کړه.

(کافرو دا منظر ليدلو او خندل ئې چې په خالي دم کولو به څه اوشي...!) هغه فقير موټے بند کړے وو او د هغه کافرانو خوا ته اورسيدلو او د هغوئي په مخکښې ئې موټے بيرته کړو، بيا څه وو، هغه کافرانو چې د مذاق په طور ئې خندل، چې دا ئې اوليدل نو حيران پاتې شو چې هغه خالي موټے په کوم چې حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دُرُود پاك لوستلے وو او دم کړے ئې وو، په هغې کښې يو دينار موجود دے (يعني د سرو زرو يوه سکه موجود ده). د اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دا کرامت ئې چې اوليدلو نو ډيرو کافرانو اسلام قبول کړو.[1]

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]



1 ...راحتُ القلوب، صفحه:50۔

2 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

www.dawateislami.net

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! ښه نِيَّت افضل ترين عمل دے. راځئ! د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: نِيَّت اوکړئ چې ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم ❁ چې څومره کيدے شي د دِيې وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❁ د ضرورت په توګه به راغونډ کښينم او نورو ته به ځائ فراخه کووم ❁ که څوك راته څه تکليف را اُورَسَوي نو صبر به کووم ❁ چا ته به د نيغ نيغ کتلو نه ځان بچ ساتم ❁ د بيان نه پس به پخپله ورمخکښې کيږم او سلام به کووم ❁ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راضي کولو طريقه

حضرت عَلَّامه مُحِبُّ الدِّين طَبري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روايت ذِکر کوي، د هغې مضمون څه داسې دے چې د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت زمانه وه، يوه ورځ هغوئ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بازار ته تشريف يوړلو، هغوئ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوليدل چې يو زنانه ولاړه ده او ژاړي، حضرت عَلِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې نه د ژړا سبب اوپوښتلو نو اوئې وئيل: زه وينزه يم، ما د فلانکي دُکاندار نه د يو څو درهمو کجورې اخستې وې خو زما مالك هغه خوښې نه کړې او هغه ئې واپس کړې، اوس دُکاندار کجورې واپس نه اخلي، په دې وجه پريشانه يم. حضرت

عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ کجورې خرڅوونکي ته د هغې زنانه سفارش اوکړو او اوئې فرمائيل: کجورې بيرته واخله او د دې بے وسې درهم بيرته ورکړه، دا خو خپله مرضي نه شي کولے. حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ډير عاجزي کوونکے وو، څنګه چې نن سبا بادشاه چرته ځي نو ښه پروټوکول ورسره ځي، سيکورټي ګارډ ورسره وي، د حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سره سيکورټي ګارډ نه وو، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د عامو خلقو په شان بازار ته تشريف وړے وو، کجورې خرڅوونکي هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اُو نه پيژندلو، حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ چې کله د هغې زنانه سفارش اوکړو نو دُکاندار مَعَاذَالله! حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ له دِيکه ورکړه، خلقو چې دا منظر اوليدلو نو دُکاندار ته ئې اووئيل: آيا تاته دا پته ده چاله چې تا دِيکه ورکړه، دا خوك دے؟ اوئې وئيل: نه ئې پيژنم. خلقو ورته اووئيل: دا اَمِیۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡن، حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دے. بيا هغه کس اُويَريدو زر زر ئې د هغې زنانه نه کجورې بيرته واخستې او د هغې درهم ئې بيرته ورکړل او د حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په خدمت کښې حاضر شو په ډيره عاجزئ ئې عرض اوکړو: محترمه قدرمنده! زه غواړم چې تاسو زما نه راضی شئ. مولائے کائنات حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: که زما رضا غواړې نو د خلقو حقوق پوره پوره ادا کړه...![1]



1 ... فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل، فضائل علی، جز: 2، صفحه: 621، حديث: 1062۔

www.dawateislami.net

اے عاشِقانِ رسول! د سبق نه ړکه دي واقعه کښې زمونږ د پاره د زده کولو ډير مدني ګلونه دي. د ټولو نه وړومبے خو دا اوګورئ چې حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خومره عاجزي کوونکے وو، هغوئي اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن دے، د مسلمانانو خليفه دے، د دې باوُجود د عامو خلقو په شان به ئې بغير د پروټوکول نه بازار ته تشريف وړلو، بيا په دې خبره هم غور اوکړئ چې هغه کس په لاعلمئ کښې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته مَعَاذَ الله! ډِيکه ورکړه، دا د بے ادبئ طريقه وه په دې باندې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغه کس ته څه سزا ورنکړه.

## د مولٰی علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاجزي او اِنکساري

سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاك دې مونږ ته هم د عاجزئ او انکسارئ دولت رانصيب کړي. د حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په باره کښې رواياتو کښې دي چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به په خپل دورِ خلافت کښې د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن کيدو باوُجود بازار ته تشريف وړلو، هلته که به د چا نه څه څيز اوغورزيدلو نو پخپله به ئې را اوچتولو او [د هغې مالِك ته به ئې] ورکولو، که د چا به لاره هيره شوه نو هغه ته به ئې لاره ښودله، که چا به درونډ سامان وړلو نو د سامان په اوچتولو کښې به ئې د هغه مدد کولو.[1]

کاش! مونږه هم عاجزي اختيار کړو، که منصب، عهده ميلاؤ شي، مالداره شو نو د دې دا مطلب نه دے چې مونږه په تَکَبُّر کښې اخته شو،



1 … رياض النضرة، باب الرابع في مناقب امير المؤمنين علی بن ابی طالب، صفحه: 187، رقم: 1652۔

غريبانان اووينو نو تندے تِرو کړو، نه، نه، داسې هيڅ کله مه کوئ، د مخلوقِ خُدا مدد کول دي، د خلقو په کار راتلل دي، دلته چې زمونږ خلق خپل کار پخپله هم کوي نو شرميږي، کاش! د مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په برکت مونږ ته هم د عاجزئ او انکسارئ دولت نصيب شي.

## د خلقو حقوق پوره کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دويم مدني ګل کوم چې د دې واقعې نه مونږ ته د زده کولو ميلاؤ شو هغه دا چې حضرت مولا علي کجورې خرخوونکي ته اوفرمائيل: که ته ما راضي کول غواړې نو د خلقو حقوق پوره پوره ادا کړه.

د دې نه معلومه شوه چې د خلقو حقوق پوره کول ډير فضيلت او اهميت لرونکے کار دے، مونږ ټولو له پکار دي چې د خلقو حقوق پوره کړو. د مور او پلار هم حقوق دي، د خوئيندو ورونړو هم حقوق دي، اسلام د ګاونډيانو، دوستانو، ملګرو او محلے والؤ هم حقوق ايښودي دي، د دُکاندار او ګاهك [يعني اخستونکو] هم حقوق دي، د دې ټولو حقوق پوره کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم !

اِمام غزالي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د احياءُ العُلوم په دويم جلد کښې په تفصيل سره د بندګانو حقوق بيان کړي دي. هلته نه که د حقوقو بيان اولولو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم ! د حقوقو پوره کولو ذِهن به جوړ شي او د دې په باره

کښې به کافي معلومات هم حاصل شي. الله پاك دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضرت علـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيٌّ المُرتَضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مسلمانانو څلورم خليفه دے، هغوئي په 13 رَجَبُ الْمُرَجَّب مکه مکرمه کښې پيدا شو، د لسو کالو په عمر کښې ئې اسلام قبول کړو،[1] د هغوئي مور د هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نوم حيدر او پلار ورله علـي کيښودو. رَسُولِ اکرَم هغوئی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د اَسَدُ الله لقب ورکړو، يعني د الله پاك ازمرے.[2]

حضرت مولا علـي په 21 رَمَضَانُ المُبارَك شهيد شو.[3]

اَصلِ نَسلِ صَفَا، وجہِ وَصلِ خُدا | باب فَضلِ وِلایَت پہ لاکھوں سلام[4]

**وضاحت:** حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خالص د ساداتو جرړه او بنياد دے، د واصِل بالله (يعني د الله پاك مُقَرَّب) جوړيدو سبب او د ولايت د فضائلو ميلاويدو دروازه ده، په هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې ډير ډير سلام وي.

اے عاشِقانِ رسول! راځئ! د مولا علـي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان او عظمت کښې د يو څو احاديثو اوريدلو سعادت حاصلوو:

323

1 … کراماتِ شیر خدا، صفحه:12 ملخصاً۔

2 … مرآۃ المناجیح، جلد:8، صفحه:412، ملخصاً۔

3 … کراماتِ شیر خدا، صفحه:13 ملخصاً۔

4 … حدائق بخشش، صفحه:313۔

## (حدیث:1 ) د چا چې زه مولا یم، د هغه علـي مولا دے

د حَجَّةُ الوَداع موقع وه (زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې چې کوم آخري حج ادا کړے وو هغې ته حَجَّةُ الوَداع وئيلے کيږي) په دې موقع باندې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حج ادا کولو نه پس مدينې مُنَوَّرې ته تشريف وړلو، په لاره کښې يو مقام راځي چې هغې ته غَدِيرِ خُم وائي. حضرت براء بِن عازِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د غَدِيرِ خُم په مقام باندې رسولِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قيام اوفرمائيلو. د يوې ونې په سوري کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره ځائ پاك کړے شو، هلته خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماسپخين لمُونځ ادا کړو، د لمَانځه نه پس د الله پاك حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ته مخاطَب شو اوئې فرمائيل: اَلَسْتُمْ تَعْلَمُوْنَ اَنِّیْ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِم يعني (اے زما صحابوو!) آيا تاسو نه پوهيږئ چې زه د مسلمانانو د هغوئي د ځانونو نه زيات مالِك يم. صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: بَلٰی ولے نه (يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يقيناً تاسو زمونږ نه زيات زمونږ د د ځانونو مالك ئې) د الله پاك نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا اوفرمائيل: اَلَسْتُمْ تَعْلَمُوْنَ اَنِّیْ اَوْلٰی بِکُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهٖ آيا تاسو نه پوهيږئ چې زه د مسلمانانو د هغوئي د ځانونو نه زيات مالِك يم. صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: بَلٰی ولے نه (يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يقيناً تاسو زمونږ نه زيات زمونږ د ځانونو مالك

ئي) بیا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل خوږ صحابي، د حسنَینِ کریمَین والدِ محترَم حضرت علـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لاس په خپل مبارك لاس کښې اونیولو او اوئې فرمائیل: **مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ** د چا چې زه مولا یم، د هغه علـي (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) مولا دے. بیا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: **اَللّٰهُمَّ وَالِ مَنْ وَالَاهُ وَ عَادِمَنْ عَادَاهُ** اے الله پاکه! څوك چې د علـي (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) سره محبت اوکړي، ته د هغه سره محبت اوکړې او څوك چې د علـي (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) سره دُښمني ساتي، ته د هغه سره دُښمني اوفرمائې.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشِقانِ رسول! په دې حدیثِ پاك کښې سرکارِ مدینه صفا صفا اوفرمائیل چې حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هر مسلمان مولٰـی دے. **حکیمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دلته د وَلِـي(یعني مولٰی) معنٰی خلیفه نه ده بلکه دوست یا مددګار معنٰی ده. یعني زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مبارك مطلب دا دے چې د چا زه محبوب او مددګار یم، د هغه علـی هم دوست، محبوب او مددګار دے.[2]

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بَیت! د دې نه دا هم معلومه شوه چې **یَا عَلِـي مَدد** وئیل بالکل جائز دي ځکه چې زمونږ خوږ آقا، نُورِ خُدا تر قیامته پورې د راتلونکو مسلمانانو مولٰی (یعني محبوب او مددګار) دے، ځکه



1 … فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل، فضائل علی، جز: 2، صفحه: 596، حدیث: 1016۔
2 … مرآة المناجیح، جلد: 8، صفحه: 417۔

www.dawateislami.net

حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هم ترقیامته پورې د راتلونکو مسلمانانو محبوب او مددګار شو، چې کله هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ زمونږه مدد ګار دے نو د هغوئي نه مدد غوښتل ولې ناجائزه کیدے شي. که څه سخته راپيښه شي، پريشاني راشي، خفګان، درد غم، مصيبت راشي نو **يَـا عَلِـي مَدد** وائې! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! مولا علي مشكل كُشا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ به ضرور کرم کوي او سخته به مو حل کوي.اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم!

## د نادِ علـي برکتونه

د شاه محمد غوث ګواليارې رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کتاب "**جواهِرِ خمسه**" دے. په دې کتاب کښې وظائف ليکلے شوي دي، ډير مشهور کتاب دے، غټو عُلمائے کرامو، اوليائے کرامو تر دې پورې چې د پاك او هند ډير غټ مُحَدِّث شاه وَلِـيُّ الله مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په دې کتاب کښې د ليکلے شوو وظائفو اجازتونه ورکړي دي، اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم د دې کتاب تعريف کړے دے. په دې کتاب کښې د **نادِ علـي** لوستلو ترغيب هم موجود دے. **نادِ علـي** دا دے:

نَادِ عَلِيًّا مَّظۡهَرِ الۡعَجَائِبِ تَجِدۡهُ عَوۡنًا لَّكَ فِي النَّوَائِبِ كُلُّ هَمٍّ وَّ غَمٍّ
سَيَنۡجَلِيۡ بِنَبُوَّتِكَ يَا مَحَمَّدُ بِوَلَايَتِكَ يَا عَلِيُّ يَا عَلِيُّ يَا عَلِيُّ

**ترجمه:** حضرت علـي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ را اوبله څوک چې د عجائبو ښکاره ځائ دے، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ به په خپلو ټولو مصيبتونو کښې خپل مددګار اومومئ، هره

پريشاني او غم به لرې شي، ستاسو په نَبُوَّت سره يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو په ولايت سره يَـا عَلِـي! يَـا عَلِـي! يَـا عَلِـي![1]

علمائے کرامو ليکلي دي: چاته چې څه مسئله پيښه شي، پريشاني وي، بيماري راشي، غم او ستم مو خفه کړي، يو غټ مقصد وي، هغه دې **نادِ علـی** لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د دې په برکت به پريشانئ، خفګان او غمونه لرې شي، مسئلې به مو حل شي او په خپلو مقاصدو کښې به درته کاميابي نصيب شي.

اے عاشقانِ رَسُول! که تاسو نادِ علي نه شئ ليکلے نو د دعوتِ اسلامي يوه شُعبه ده: **روحاني علاج** [تعويذاتِ عَطّاريه]، د دې نه دا ليکلے حاصلوے شئ۔

## (حديث:2) حضرت علـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته کتل عبادت دے

د حضرت عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاك آخري نبـي فرمائي: اَلنَّظْرُ اِلٰی وَجْهِ عَلِيٍّ عِبَادَةٌ د علـي مخ ته کتل عبادت دے.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره عظيم شان دے. علمائے کرام فرمائي: دا د حضرت علـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خاص فضيلت دے.[3]



1 … جَواہِرِ خمسه مُتَرجَم، صفحه:282۔

2 … مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، باب النظر الی علی عبادة، جلد:4، صفحه:118، حديث:4737۔

3 … مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، باب النظر الی علی عبادة، جلد:4، صفحه:118، حديث:4737۔

## د حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارك عمل

د مسلمانانو د ورومبي خليفه اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت ابُوبکر صِدّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارك عادت وو چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته په غور ډير ډير کتل. يوه ورځ د هغوئي شهزادګۍ اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا عرض اوکړو: خورډه پلاره! ما ليدلي دي چې کله تاسو حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته ګورئ نو بس ګورئ، د دې څه وجه ده. حضرت ابُوبکر صِدّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: لورې! ما د الله پاك آخري نبـي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان مبارك اوريدلے دے چې بے شکه د علـي مخ ته کتل عبادت دے.[1]

اوس دا عبادت (د علـي مخ ته کتل عبادت دے) خو د صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان يا خوش نصيبه تابعينو نصيب شو، زمونږ په نصيب دا سعادت چرته دے...! کاش! حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کرم اوفرمائي او په خوب کښې تشريف راوړی او مونږ ګنهګارانو ته د ديدار شرف را عطا کړي.

## (حديث:3) د علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت د اِيمان علامت دے

د مسلم شريف حديثِ پاك دے او د دې راوي پخپله حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے، فرمائي: زما دې په هغه ذات قَسَم وي څوك چې



1 ...المجالسة، جزء السادس و العشرون، جلد:3، صفحه:269، رقم:3596۔

دانه اوشلوي (يعني د داني نه ونه را اوباسي)، په هغه ذات مې دې قَسَم وي چا چې رُوح پيدا كړے دے، بے شكه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما سره وعده ده چې اَنْ لَّا يُحِبَّنِيْ اِلّا مُؤْمِن وَ اَنْ لَّا يُبْغِضَنِيْ اِلّا مُنَافِق يعني زما سره محبت نه ساتي خو مُومِن او زما سره بُغض (يعني په زړه كښې پټه دُښمني) نه ساتي خو مُنافِق.[1]

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بَيت! د دې حديثِ پاك نه معلومه شوه چې د حضرت عَلِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ محبت د ايمان نخښه ده او د حضرت عَلِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بُغض مَعَاذَ الله! د منافقت نخښه ده. عَلَّامه اِبنِ حجر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: د صحابهٔ كرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم دا طريقه وه چې د چا د ايمان يا منافقت ازميښت به ئې كولو نو د بُغضِ علي نه به ئې پيژندلو، چې څوك به ئې اوليدلو چې د حضرت مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره بغض ساتي نو پوهه به شو چې دا منافق دے.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاك دې مونږ ته هم د مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ رښتينے پوخ محبت نصيب كړي، زمونږ زړونه دې د محبت علي لوښي جوړ كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## صرف رښتيے محبت اصل محبت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دلته يوه خبره ضرور په ذِهن كښې



1 ... مسلم، كتاب الايمان، باب الدليل على ان حب الانصار، صفحه: 50، حديث: 78۔

2 ... الصواعق المحرقة، صفحه: 154۔

کښینوئ، هغه دا چې د حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هر قسمه محبت نجات ورکوونکے نه دے، د محبتِ علـي د بعضې انداز هغه هم دے کوم چې د نجات ورکولو په ځائ هلاك کوونکے دے، په حديثِ پاك کښې دي او د دې حديثِ پاك راوي هم پخپله مولا علـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے، فرمائي: يوه ورځ رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه را اوبللم، اوئې فرمائيل: اے علـي! په تا کښې د (الله پاك د نبـي) عيسٰی (عَلَیْہِ السَّلَام) مثال دے (هغه داسې چې) حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام سره يهودو بغض اوساتلو، تر دې چې د هغوئي په والده محترمه (حضرت مريم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہَا) باندې ئې تهمَت اولګولو او د حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام سره نصارٰی [يعني عيسايانو] محبت اوکړو نو حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام ئې هغې درجے ته اُورَسَوَلو کومه چې د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام نه وه.

د دې حديثِ پاك بيانولو نه پس شيرِ خُدا حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: خلقو! واورئ! زما په باره کښې به دوه قِسمه خلق هلاك کيږي (1) زما په محبت کښې زياتي کولو (يعني حد نه تيريدلو) والا، ما به په هغه صفاتو کښې زيات کړي کوم چې په ما کښې نشته او (2) زما سره د بُغض ساتونکو بُغض به هغوئي په دې خبره راپار کړي چې په ما باندې بُهتان اولګوي.[1]



1 ... مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:91، حديث:4680۔

www.dawateislami.net

مشهور مُفسّرِ قرآن، حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي:د علـي محبت د اِيمان اصل دے. آؤ! په محبت كښې ناجائزه زيات والے (يعني د حد نه وتل) بد دي خو د علـي دُښمني په اصل كښې حرامه بلكه كفر دے.[1]

اے عاشِقانِ رسول! معلومه شوه چې د حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ هغه محبت كوم چې د شريعت حدونه ماتوي، دا محبت خلاصے وركوونكے نه دے، نه دا د اِيمان علامت دے بلكه دا خو په هلاكت كښې اچوونكے محبت دے. آؤ! د حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى شيرِ خُدا رَضِىَ اللهُ عَنْهُ هغه محبت چې د شريعت په حد كښې اوكړے شي، دا رښتينے محبت دے، هم دا محبت خلاصے وركوونكے هم دے او هم دا هغه د علـي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ محبت دے كوم چې د اِيمان علامت ګرځولے شوے دے.

اوس په ذِهن كښې سُوال راځي چې د حضرت علـي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ رښتينے محبت كوم يو دے؟ د دې پيژندګلو څه ده؟ په دې حوالے سره عُلمائے كرامو د محبتِ علـی يو څو تقاضے او علامتونه ليكلي دي، په هغې كښې دوه دا دي:

## (1) د محبّتِ علـی وړومبئ تقاضا

د محبتِ علـی وړومبئ تقاضا يا نخښه دا ده چې د حضرت علـی رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د محبت سره سره د نورو صحابهٔ كرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم محبت هم په زړه



1 … مرأة المناجيح، جلد:8، صفحه:424۔

www.dawateislami.net

کښې موجود وي، کوم بنده چې د محبتِ علـي دعوٰی هم اوکړي او صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ته رد بد هم وائي، داسې بنده د حضرت علـی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ رښتینے محبت کوونکے هیڅکله نه شي کیدے. اوګورئ! حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ پخپله فرمائي: د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه بهتر ابُوبکـر او عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما دے، بیا ئې اوفرمائیل: **لَا یَجۡتَمِعُ حُبِّیۡ وَ بُغۡضُ اَبِیۡ بَکۡرٍ وَّ عُمَرَ فِیۡ قَلۡبِ مُؤۡمِنٍ** یعني زما محبت او د ابُوبکـر او عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما بُغض د یو مومِن په زړه کښې نه شي جمع کیدے.[1]

معلومه شوه کوم سړے چې د حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د محبت دعوٰی خو کوي خو حضرت ابُوبکـر او حضرت عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما ته ردې بدې وائي، د هغه محبت رښتینے نه دے بلکه دا د محبت په دعوٰی کښې دروغژن دے.

## کله هم د تندې نه لګیدو عجیبه راز

حضرت **ابُو محمد عبدُ الله مُهۡتَدِی** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: ما د حج سعادت حاصل کړو. په حرم شریف کښې د یو کس په باره کښې ما واوریدل چې هغوئې اوبه نه څښې! زه ډیر حیرانه شوم. ما د هغوئې سره ملاقات اوکړو او تپوس مې ترینه اوکړو چې څه وجه ده چې تاسو اوبه نه څښئ؟ نو اوئې وئیل: زه د حِلَّه اوسیدونکے یم، یوه شپه ما په خوب کښې د قیامت



1 …معجم اوسط، جلد:3، صفحه:79، حدیث:3920۔

www.dawateislami.net

سخت ويرروونكے منظر اوليدلو او زه د سختې تندې نه بچپله بے تابه شوم، په څه طريقه مې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حوض مبارك ته ځان اورسولو. هلته خلفائے راشدين يعني حضرت ابُوبكر صِدِّيق، عمر فاروق، عثمانِ غَنِّي او حضرت علي عَلَيْهِمُ الرِّضْوان موجود وو او په خلقو ئې اوبه څښلې. زه د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت كښې حاضر شوم، ځكه چې زما په هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې ډير ناز وو، ما د هغوئي سره ډير محبت كولو او د دريو وارو خلفاؤ عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه مې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ افضل گڼړلو، خو دا څه اوشو! حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما نه مخ واړولو! زه ډير ترږے شوے ووم زه په نمبر نمبر د هغه درې وارو خلفاؤ په خدمت كښې هم حاضر شوم، هر يو زما نه مخ واړولو، په دې كښې زما نظر د مدينې په جانان، صاحبِ كوثر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پريوتلو، زه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارگاهِ اَنور كښې حاضر شوم، عرض مې اوكړو: مولا علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ما باندې اوبه اُو نه څښلې او خپل مخ ئې رانه واړلو، ارشاد اوشو: هغه څنګه په تاسو اوبه اوڅښې! ته خو زما د صحابؤ عَلَيْهِمُ الرِّضْوان سره بغض ساتې! د دې په اوريدلو ما ته د خپلې عقيدې غلط كيدو يقين اوشو او ما په ډيره پښيمانتيا سره د تاجدارِ رسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارك رښتينې توبه اوكړه، سركارِ عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته يوه پياله را عطا كړه كومه چې ما اوڅښله، بيا زما سترګې اوغړيدلې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د كله نه چې ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاسو مباركو نه پيالئ څښلې ده، زه بالكل نه ترږے كيږم. د دې خوب نه پس ما د

خپل کور خلقو ته د توبې کولو تلقين اوکړو، په هغوئي کښې چې چا توبه اوکړه او مسلكِ اهلِسُنَّت وجماعت ئې قبول کړو، ما د هغوئي سره خپل تعلُّقات قائم اوساتل، او د نورو سره مې خپل تَعَلُّق ختم کړو.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې روايت نه پته اولګيدله چې د رښتيني مسلمان پيژندګلو دا ده چې هغه د ټولو صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان د عظمت او شان په زړه سره اقرار کوي. که يو کس د بعضې صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان سره محبت کوي او د بعضو سره بُغض ساتي نو هغه په ډيره سخته غلطئ باندې دے. الله پاك دې مونږ ته د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان سره رښتينے محبت او عقيدت را عطا کړي. په دې باندې دې ثابت قدمي را نصيب کړي، او هم د دې مينې محبت او ارادت په حالت کښې دې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شين شين ګنبد په جلوو کښې شهادت، په جنَّتُ البَقِيع کښې دفن کيدل او په جنَّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي د دوستانو ګاونډ را نصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2) د محبتِ علی دويمه تقاضا

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ رښتيني محبت يو



[1] ...مصباح الظلام، صفحه:74 ملخصاً۔

www.dawateislami.net

علامت دا دے چې په اعمالو کښې د هغوئي تابعداري اوکړې، د هغوئي مخالَفت اونکړې.[1]

مطلب دا دے چې کوم بنده د چا سره محبت کوي د هغه طريقې هم خپلوي ځکه څوك چې د حضرت علــی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره محبت کوي، هغه دې صرف خالي دعوٰی اونکړي، په سيرت، خبرو کښې دې د حضرت علــی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پيروي هم اختيار کړي. مَثَلاً ❀ حضرت علــی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بے مثاله عالِمِ دين وو، مونږ له هم پکار دي چې مونږه علمِ دين زده کړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په شَوَّال المُکَرَّم کښې د جامعةُ المَدينه داخلے شروع کيږي، په جامعةُ المَدينه کښې داخله واخلئ، عالِم کورس اوکړئ، عالِم جوړ شئ، مُفتــي جوړ شئ، د دې نه علاوه د دعوتِ اسلامي تحت مختلف شارټ کورسونه (***Short courses***) کيږي، مَثَلاً فرض عُلوم کورس، فيضانِ نماز کورس، اصلاح اعمال کورس، دا کورسونه اوکړئ، فيضان آن لائن اکيډمئ کښې د علمِ دين ډير زيات کورسونه آن لائن هم کيږي، په هغې کښې داخله واخلئ، هفته واره مَدَني مذاکره کښې شريك کيږئ، هفته واره رساله لولئ، تفسير صراطُ الجنان لولئ، فيضانِ سُنَّت، فيضانِ نماز وغيره کتابونه واخلئ، اولولئ ئې، د دعوتِ اسلامي آئي. تــي ډيپارټمنټ د ***Islamic eBook Library*** په نوم سره يو موبائل ايپلي کيشن جوړ کړے دے، په دې کښې د مکتبةُ المَدينه تقريباً ټول کتابونه



1 … مرآۃالمناجیح، جلد:8، صفحہ:414۔

www.dawateislami.net

موجود دي، په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ، مفت ئې ډاؤن لوډ کړئ، لولئ ئې، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډیر زیات علمِ دِین به زده کړئ.

❁ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د دِین بچ کولو په مُعامَله کښې مضبوطه اراده لرونکـے وو، ځکه د مَحبتِ علـي (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ) نوم اخستونکـو له پکـار دي چې د دِین ښه خدمت اوکړي، د نیکئ دعوت خور کړي، د بدئ نه منع اوکړي، د خدمتِ دین د پاره همیشه حوصله اوچته اوساتي او د دِین اسلام دې ښه ډیر خدمت اوکړي.

❁ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د حکمت نه ډکې خبرې کولې، مونږ له پکـار دي چې د فضول خبرو نه بچ شو، ښه سوچونه اوکړو او ښه خبرې اوکړو ❁ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شپے په تیاره کښې ښه عبادت کول خوښولو، مونږ له پکـار دي چې د اللّٰه پاك ښه عبادت اوکړو، فرائض، واجبات هم پوره کړو او د دې سره سره د شپے په یو والي کښې هم د ښه عبادت خوند واخلو ❁ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د اللّٰه پاك له ویرې ژړل، مونږه هم د اللّٰه پاك نه ویریدونکـي جوړ شو، کله د دوزخ تَصَوُّر جوړ کړو، کله د عذابونو ذِکر اولولو، کله مقبرے ته حاضر شو او د آخرت فِکر اوکړو او د اللّٰه پاك له ویرې اوښکې اوبهیوو ❁ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د خپل نفس مُحاسَبه کوله ❁ په سلام کولو کښې به ئې وړاندې والے کولو ❁ د پرهیزګارانو احترام به ئې کولو ❁ د غریبانو مسکینانو

سره به ئې محبت کولو، مونږ له هم پکار دي چې مونږه هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه واخلو، شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نيك جوړيدو بهترينه نُسخه يعني رساله نيك اعمال عطا کړې ده، ډيره خوش قسمتي به مو وي چې دا رساله د مکتبة المَدينه نه واخلئ، که غواړئ نو Naik Amaal نومې موبائل ايپلي کيشن انسټال کړئ او د دې مطابق د خپلو اعمالو جائزه اخستلو عادت جوړ کړئ ❀ حضرت مولا علـی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ به د غريبانو سره مدد کولو مونږ له پکار دي چې د غريبانو مدد اوکړو ❀ د عُلمائے کرامو او نيکو بندګانو عِزَّت هم اوکړو.

چې د حضرت مولا علـی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ پاکيزه سيرت دا اعلٰـی اوصاف خپل کړو نو د مولا علـی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ محبت به مو هم نصيب شي، هغه به زيات هم شي او دا محبت به د الله پاك په فضل او کرم سره د نجات ذريعه هم اوګرځي.

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "هفته واره اجتماع"

اے عاشِقانِ رسول! خپل ژوند بامقصده جوړولو، خوفِ خُدا او د عشقِ رسول نِعمَت موندلو، نيکئ کولو او د اِيمان د حفاظت د پاره درد مند کيدلو ذِهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره تړون اوکړئ او د ذِيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې په اخلاص خپل کردار ادا کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ډير برکتونه به در نصيب

شي، په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار ”هفته واره اجتماع“ هم ده. راځئ يو مدني سپرلے اورو:

## شرابـي، مُبَلِّغ څنګه جوړ شو؟

د كراچۍ (پاكستان) يو اسلامي ورور بيان دے: زمونږ په علاقه كښې يو شرابـي شپه ورځ په ګناهونو كښې مشغوله اوسيدلو او ښه ډير شراب به ئې څښل، يوه ورځ يو اسلامي ورور هغه ته د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع كښې د شريكيدلو دعوت وركړو. هغه خوش نصيبه وو چې په اجتماع كښې شريك شو او هغه نور هم خوش قسمته شو چې په دې هفته واره اجتماع كښې شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ بيان كولو، دې شرابـي چې كله ژړوونكے بيان واوريدلو نو زړه ئې نرم شو، د الله له ويرې ئې د سترګو نه اوښكې رواني شوې، د بيان نه پس هم هغه د ډير ساعته پورې سر ښكته كړے وو او ژړل ئې. دې خوش نصيبه د خپلو ګناهونو نه توبه اوكړه او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په لاس ئې بيعت اوكړو او د حُضُورِ غوثِ پاك شيخ عبدُالقادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مُريدانو كښې شامِل شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره كښې د روژے مُتَعَلِّق د يو څو مَدَني ګلونو وړاندې كولو سعادت حاصلووم۔

## د دې ځيزونو سره روژه پاتيږي

✿ خوراك، څښاك يا جِماع كولو سره روژه ماتيږي هله چې روژه دار كيدل ورته ياد وي. (بهارشريعت ج۱، ص۹۸۵)

✿ چيلم، سِګار[1]، سِګريټ، چُرَټ[2] وغيره څښلو سره هُم روژه ماتيږي، اګر كه په خپل خيال كښې حلق ته لوګے نه رسوي. (ايضاًص۹۸٦)

✿ غاښونو نه وينه اُووتله او حلق نه ښكته لاړه او وِينه د لاړو نه زياته وه يا برابره وه يا ترينه كمه وه خو د هغې خوند په حلق كښې محسوس شو نو روژه ماته شوه او كه كمه وه او مزه ئې هُم په حلق كښې محسوس نه شوه نو روژه ماته نه شوه. (ايضاًص٤٢٢)

✿ خُله وينځلو كښې ئې بے اِراده اوبه د حلق نه ښكته لاړې يا ئې پوزې ته اوبه خيژولې او دِماغو ته اوختلې، روژه ماته شوه خو كه روژه دار كيدل ترينه هير وو نو نه به ماتيږي اګر كه قصداً (يعني اِرادتاً) وي. ✿هُم دغسې كه د روژه دار طرف ته چا څه ځيز ور ويشتلو او حلق ته ئې لاړو نو روژه ئې ماته شوه. (عالمګيری ج۱، ص۲۰۲)

✿په خُله كښې ئې رنګين مزے وغيره واچوو چې په هغې ئې لاړې رنګينې شوې، بيا ئې لاړې تيرې كړې روژه ماته شوه. (ايضاً)



[1] د يو قِسم بوټي په پاڼړه كښې انغښتې تماكو د سګريټ په شان.

[2] چُرَټ: دا هُم د سګريټ په شان وي.

www.dawateislami.net

❁ اوښکې ئې خُلې ته لاړې او تيرې ئې کړې، که يو دوه څاڅکي وي نو روژه ماته نه شوه او که زياتې وي چې د هغې مالګين خوند په ټوله خُله کښې محسوس شو نو ماته شوه. د خوَلې هُم د احُکم دے. (ايضاً)

د رمضان د مياشتې د فضائلو او د روژے مُتَعَلِّق تفصيلي احکام او مسائل لوستلو د پاره د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مايه ناز کتاب "**فيضانِ رمضان**" اولوَلئ- دا کتاب په پښتو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤنلوډ کولے او لوستلے هُم شئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د

داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً



1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

www.dawateislami.net

بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې



1... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

www.dawateislami.net

دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسي ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

323

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥